# په ۲٤ فروری ۱۹٤٦ پیښور کښې د اسمبلۍ ممبرانو ته

# د باچا خان تقریر

**پښتون ۹ مارچ ۱۹٤٦**

(یادګیرنه: د باچا خان دا تقریر مونږ په دې غرض شاملوو چې نن هم په صوبه کښې زمونږ خپل حکومت دے او د فخر افغان د هغه وخت دغه خبرې نن هم زمونږ د اسمبلۍ د ممبرانو او وزیرانو صاحبانو دپاره د لارې مشال کیدے شي.)

زما ورونړو! تاسو ته به دا خبره په ښهٔ شان معلومه وي چې ترا وسه پورې ما د وزارت په معاملو کښې مداخلت کړے نهٔ دے او نهٔ زما دې طرف ته څهٔ شوق او مینه شته او ما اکثر د دې خبرو نه کناره کړې ده، لیکن اوس ما ته معلومه شوه او زهٔ په دې نتیجه ورسیدم چې کهٔ چرې زهٔ د دې نه جدا یم مګر خلق زما دا جدائي نهٔ مني او د دې د ښهٔ او بد د اثر نه نهٔ زهٔ خلاصیږم او نهٔ زمونږ تحریک، په دې وجه ما دا خبره ضروري وګڼله چې زهٔ ځان نور د دې نه کناره ونهٔ ساتم او په دې کښې حصه واخلم. زهٔ په خپله خو یو انقلابي سړے یم، موجوده پارلیمنټري کارونه د خپل نصب العین دپاره چې هغه د ملک مکمله ازادي ده، څهٔ دومره فائده مند نهٔ ګڼم او هم په دغه وجه ما د دې خبرو سره دلچسپي نهٔ اخسته، مګر چونکې د دې سره د عام قوم د فائدې او نقصان تعلق دے او کهٔ زهٔ هم دغسې نور غیر جانبدار پاتې شم نو زهٔ وینم چې غریبو خلقو ته نقصان رسي نو دا مې مناسب وګڼله چې نور غیر جانبدار پاتې نهٔ شم لیکن په دې لار کښې زهٔ ګورم چې زما دپاره ډیر مشکلات دي. زهٔ چې رښتیا وایم نو تاسو خفه کیږئ او دې خوا ما خپل ضمیر مجبوروي چې کومه خبره ما ته حقه ښکاري چې هغه زهٔ تاسو ته ښکاره کړم. زهٔ هم تاسو ته دغه خبره کوم چې کومه مولانا صاحب تاسو ته کړې ده چې زمونږ وزارت به هله د قام دپاره فائده مند کیدے شي چې مونږ دا د ملک یو خدمت وګڼو کهٔ چرې تاسو ما د ځان سره په دې کار کښې شریکول غواړئ نو مونږ له پکار دي چې دا وزارت هله اخلو چې مونږ په دې د خپل غریب قام فائده او خدمت کولے شو. تاسو ټولو ته په ښهٔ شان معلومه



ده چې د الېکشن په وخت کښې ما په دې صوبه کښې څومره دورې کړې دي نو د چا نه مې د ووټ سوال نۀ دے کړے او نۀ مې چا سره وعده کړې ده خو زما ضمير ما په دې خبره مجبوروي چې غريب قام مونږ سره دومره تنګ او غېرت کړے دے نو مونږ له پکار دي چې څومره د دې نه د غريبو د فائدې څۀ کار کېدے شي، فائده واخلو او کۀ مونږ پوه شو چې د وزارت نه غريبو خلقو ته فائده نۀ شو رسولې نو چې بالکل ئې پرېږدو. بله خبره دا ده چې مونږ ټول په دې خبره ځان پوه کړوچې دا زمونږ د ټول قام يو شريک کار دے او زمونږ د جماعت يوه شريکه ذمه داري ده نو کۀ چرې مونږ هر يو کس دا خپل مقصد وګڼو او د يو بل سره په مينه او محبت تعاون وکړو نو مونږ څومره کار کولے شو او کۀ چرې مونږ په يو بل بې اعتباره يو او په خپلو کښې ډلې ډلې يو نو څومره کار کولے شو؟

کۀ څوک وزير وي او کۀ ممبر وي يا خدائي خدمتګار وي چې دا محسوس کړي چې دا کار زمونږ د ټول جماعت دے نو کۀ مونږ داسې وکړو نو زمونږ طاقت نور هم زياتېدے شي او د هغې په وجه مونږ د قوم او ملک خدمت هم ښۀ کولے شو.

دا ځل مونږ له په داسې طريقه کار چلول پکار دي چې زمونږ ټول قام دا خبره ومني چې دا زمونږ حکومت دے او په دې کښې د هر چا اواز شته او د هر يو پښتون اواز اورېدے شي، په دې صورت به ټول قام زمونږ سره شي او زمونږ طاقت به ډېر زيات شي او زمونږ تحريک به ډېره ترقي وکړي. دوېمه خبره دا ده چې په الېکشن کښې مونږ سره د صوبې سرکاري حاکمانو څۀ کړي دي، هغه زما نه هېرېدے نۀ شي او څۀ وخت چې ما د ټولې صوبې دوره وکړه او څۀ حالت مې وليدو او څۀ اثر ئې په ما وکړو هغه مې هم د ډاکټر صاحب (وزيراعظم[1]) او قاضي صاحب (وزيرتعليم) نه پټ کړي نۀ دي، بلکې هغوي مې په دې ټولو حالاتو خبردار کړي دي.

زما خو اول اول دا خيال ؤ چې حکومت به زمونږ برخلاف صرف پروپېګنډه کوي، مګر ډېر زر راته معلومه شوه چې دا يو لوئے سازش ؤ چې په دې کښې تمام سرکاري ملازمان د وړو نه تر لويو شريک وو او په هره طريقه ئې کوشش کولو چې خدائي خدمتګار کامياب نۀ شي او دا ئې لا څۀ کوي د الېکشن په دوران کښې چې د صوبې حکومت (وزارت) څۀ قسم حکم ورکړے دے، هر يو سرکاري ملازم د هغې مخالفت کړے دے او حکم ئې منلے نۀ دے نو په داسې حالاتو کښې کۀ چرې مونږ وزارت جوړ هم کړو نو مونږ څۀ کولے نۀ شو.

زما خو دا رائې ده چې تر څو ګورنر مونږ له دا يقين رانۀ کړي چې بيا دپاره به داسې نۀ شي کېدے او هغې خلقو له چې چا د صوبې د حکومت دا احکامو خلاف ورزي کړې ده، سزا ورنۀ کړي نو وزارت اخستل پکار نۀ دي.

دا درې غټې غټې خبرې وې چې زما په خيال کښې راغلې وې نو تاسو ته مې مخکښې کېښودې، تاسو له پکار دي چې په دې خبرو غور وکړئ او چې څۀ درته مناسب ښکاري، هغسې قدم پورته کړئ.

(عبدالغفار)

[1] - هغه وخت کښې به ئې وزيراعلې ته وزيراعظم وئيل.